DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

## د پایلي لنډیز . اتم پړاو

## مارچ – جون ۲۰۱۹



داخلي بېځایه شـوي کسـان ډېرو سـتونزو سره لاس او ګریوان دي لکه دا معلول چې د معلولیت سربېره اوس هم پیاوړی دی. هغه په فاریاب ولایت کې د داخلي بېځایه شـوي په توګه ژوند کوي. هغه په خپل کلي کې د یو برید پر مهال خپله پښـه له لاسـه ورکړه او دې ته اړ شـو چې میمنه ښـار ته بېځایه شي او هلته اوس چندان ښـه ژوند نلري. هغه د کثافاتو له یو خالي ډبي څخه ځان ته هټۍ جوړه کړې او هلته د کرایې پرته توکي پلوري. © IOM ۲۰۱۹

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایـه کېدوونکـو د تعقیـب سیسـتم داسـې یو سیسـتم دی چـې د خلکـو د بېځایه کېدنې او تحـرک لـه بهیـر څخـه تعقیـب او څارنه کوي. دا سیسـتم په سیسـتماټیک ډول د معلوماتو راټولـو، پراسـس کولـو او خپرولـو لپـاره جوړ شـوی ترڅو وکـولای شي د تحرکاتو او په سـیمه او یـا لاره کـې د بېځایـه شـویو خلکـو هغـه اړتیـاوو پـه هکلـه چـې د بدلـون په حـال کې دي ښـه پوهـاوی منځ تـه راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلومـاتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخـه کتنه وکړئ.

د بېځایـه کېدوونکـو د تعقیـب سیسـتم د کډوالـو او راسـتنېدونکو چـارو وزارت په همغږۍ سره پـه افغانسـتان کـې د تحـرک د ارزونـې بنسـتیزې وسـیلې کاروي ترڅـو د تحرکاتـو څخـه څارنـه وشي او د نفـوس پـه هکلـه اټکلونـه، د بېځایـه شـویو موقعیتونـه او جغرافیـه وي وېـش څرګنـد شي. سربېـره پـر دې DTM د بېځایـه کېـدو مهـال، علـت، اصلـی سیمې، لومـړني ډیموګرافیکـي معلومـات، زیانمنتیـاوې او د اړتیـاوو د لومړیتوبونـو څخـه څارنه کوي. معلومـات د کلیـو پـه کچـه د ډلـه ایـزو بحثونو، مخامـخ کتنو او کلیـدي معلوماتـو ورکوونکو سره د مرکـې لـه لارې راټولېـږي.

DTM پروګـرام، د کډوالـۍ نړیـوال سـازمان او ملګـري سـازمانونو تـه دا پیاوړتیـا ورکـوي چـې سرچینـې پـه اعظمـي توګـه لـوړې کـړي او لومړیتوبونـه وټاکـي ترڅـو د شـواهدو پـر بنسـټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسـو بشردوسـتانه مرسـتو پروګرامونه وړانـدې کـړي او د ټولنـې د بیـا یوځـای کېدنـې، ثبـات او پراختیـا څخـه ډاډ ترلاسـه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتـو بنسـتیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اسـاسي جمعیتونـو کټګوریو موقعیت، نفـوس او څو سـکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې دریو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شـویو کلیـو څخـه هغـه افغانـان چـې د داخـلي بېځایه شـویو په توګه یې خپلې سـیمې پرېښـې ترڅـو د افغانسـتان دننـه پـه یوې بلې سـیمې کـې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغـه افغانـان چـې د ارزول شـویو کلیـو څخـه پخوا د داخـلي بېځایه شـویو په توګه تـللي ول او اوسـمهال خپلـو کورونو ته بېرته سـتانه شـوي دي

۵ د موخـې وړ جمعیتونـو لپـاره د نفـوس د کچـې معلومـات د هغـوی د بېځایـه کېدنـې پـر مهـال د دې زمـاني جوړښـت پـر بنسـټ راټولېـږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۳۴** ولایتونه وارزول شول

**۳۹۲** ولسوالۍ وارزول شوې (۷ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ نه وې او ۲ ولسوالیو کې داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو شتون نه درلوده)

**۱۱،۶۳۶** کلي وارزول شول

**۶۱،۷۴۸**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳،۳۰۹،۱۸۸**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۴،۱۹۱،۵۲۱**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۴،۵۴۹،۵۶۶**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۲,۴۳۸,۹۹۸**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۳۱۸،۰۴۴**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له جملې ۱۳٪)

**۴۵۱،۷۴۲**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۳ څخه ۱**
کس په هرات، جوزجان، کنړ او ننګرهار کې او له ۴۰٪ څخه زیات کسان په بادغیس، نیمروز او زابل ولایتونو کې یا داخلي بېځایه شوي دي او یا هم راستنېدونکي

**۵ څخه ۲**
کسان د فراه، جوزجان، ارزګان، وردک او زابل ولایتونو څخه د داخلي بېځایه شویو په توګه له خپلو اصلي سیمو څخه تللي

**۳ څخه ۱**
کس په بغلان، جوزجان او تخار کې او ۴۰٪ څخه زیات کسان په هلمند، کندز او زابل ولایتونو کې بېځایه شوي ول چې اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي

**۲ څخه ۱**
۵۱٪ راستنیدونکي په ۸ ولایتونو کې ژوند کوي: بغلان، بلخ، فاریاب، جوزجان، کابل، کندز، ننګرهار او تخار

**۲ څخه ۱**
۵۰٪ داخلي بېځایه شوي په ۵ ولایتونو کې ژوند کوي: بادغیس، هرات، هلمند، کابل او ننګرهار

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځايه شوي کسان | د ولاياتو په کچه لنده کتنه

| ولایت | د وروستۍ ارزونې نېټه | مجموعي نفوس* | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي+ داخلي بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اورزګان | ۲۰۱۸/۱۲/۳۱ | ۴۲۰,۹۶۴ | ۸۲,۲۱۵ | ٪۱۶ | ۸۹۹ | ٪۰ | ۱۶۷,۰۸۵ | ٪۴۰ | ۸۱,۳۱۶ | ٪۱۶ | ۱۱۳,۷۳۶ | ٪۲۷ | ۲,۹۵۲ | ٪۱ |
| بادغيس | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۵۳۰,۵۷۴ | ۳۸۸,۲۱۳ | ٪۴۲ | ۹۸,۳۲۶ | ٪۱۱ | ۱۸۶,۶۵۶ | ٪۳۵ | ۲۸۹,۸۸۷ | ٪۳۲ | ۵۴,۴۰۶ | ٪۱۰ | ۱۱۴,۱۶۳ | ٪۲۲ |
| باميان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۷۸,۴۲۴ | ۷۷,۵۸۵ | ٪۱۴ | ۳۸,۵۴۴ | ٪۷ | ۸۵,۲۳۹ | ٪۱۸ | ۳۹,۰۴۱ | ٪۷ | ۴۸,۹۷۹ | ٪۱۰ | ۳۶,۵۵۰ | ٪۸ |
| بدخشان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۱,۰۱۷,۴۹۹ | ۱۰۱,۰۸۴ | ٪۹ | ۵۶,۵۴۴ | ٪۵ | ۹۵,۴۲۰ | ٪۹ | ۴۴,۵۴۰ | ٪۴ | ۱۴۰,۳۸۵ | ٪۱۴ | ۶۵,۳۱۴ | ٪۶ |
| بغلان | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۹۷۷,۲۹۷ | ۱۸۷,۱۱۰ | ٪۱۶ | ۱۳۶,۵۲۰ | ٪۱۲ | ۱۲۷,۷۷۲ | ٪۱۳ | ۵۰,۵۹۰ | ٪۴ | ۲۹۹,۶۶۶ | ٪۳۱ | ۱۰۷,۸۵۱ | ٪۱۱ |
| بلخ | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۴۴۲,۸۴۷ | ۲۹۴,۶۱۸ | ٪۱۷ | ۱۳۳,۸۰۴ | ٪۸ | ۷۹,۴۹۹ | ٪۶ | ۱۶۰,۸۱۴ | ٪۹ | ۳۰,۰۰۹ | ٪۲ | ۱۵۳,۹۴۸ | ٪۱۱ |
| پروان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۷۱۱,۶۲۱ | ۷۷,۶۷۱ | ٪۱۰ | ۶۰,۴۶۴ | ٪۸ | ۹۲,۶۹۶ | ٪۱۳ | ۱۷,۲۰۷ | ٪۲ | ۵۳,۵۵۰ | ٪۸ | ۵۸,۳۳۶ | ٪۸ |
| پکتيا | ۲۰۱۷/۱۲/۳۱ | ۵۹۰,۶۶۸ | ۹۲,۷۰۸ | ٪۱۴ | ۶۹,۵۶۵ | ٪۱۰ | ۴۲,۷۶۸ | ٪۷ | ۲۳,۱۴۳ | ٪۳ | ۴۳,۱۸۵ | ٪۷ | ۲۸,۲۹۳ | ٪۵ |
| پکتيکا | ۲۰۱۸/۱۲/۳۱ | ۷۴۸,۹۱۰ | ۸۳,۵۳۸ | ٪۱۰ | ۴۳,۵۸۸ | ٪۵ | ۳۲,۱۲۵ | ٪۴ | ۳۹,۹۵۰ | ٪۵ | ۱۷,۱۵۸ | ٪۲ | ۳۴,۸۴۴ | ٪۵ |
| پنجشير | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۱۶۴,۱۱۵ | ۴,۸۲۶ | ٪۳ | ۱,۳۷۲ | ٪۱ | ۳,۹۱۵ | ٪۲ | ۳,۴۵۴ | ٪۲ | ۸,۱۶۵ | ٪۵ | ۱,۲۴۹ | ٪۱ |
| تخار | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۰۵۳,۸۵۲ | ۲۰۴,۱۲۹ | ٪۱۶ | ۱۲۶,۷۷۶ | ٪۱۰ | ۱۰۱,۷۴۱ | ٪۱۰ | ۷۷,۳۵۳ | ٪۶ | ۳۸۳,۵۷۶ | ٪۳۶ | ۱۵۸,۰۶۸ | ٪۱۵ |
| جوزجان | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۵۷۹,۸۳۳ | ۳۶۱,۹۶۶ | ٪۳۸ | ۱۶۲,۴۳۰ | ٪۱۷ | ۲۴۱,۰۷۲ | ٪۴۲ | ۱۹۹,۵۳۶ | ٪۲۱ | ۲۰۰,۷۹۷ | ٪۳۵ | ۱۶۶,۱۳۱ | ٪۲۹ |
| خوست | ۲۰۱۸/۰۶/۳۰ | ۶۱۴,۵۸۴ | ۱۴۳,۸۰۵ | ٪۱۹ | ۷۶,۲۸۸ | ٪۱۰ | ۴۴,۷۶۹ | ٪۷ | ۶۷,۵۱۷ | ٪۹ | ۱۶,۰۲۹ | ٪۳ | ۲۴,۶۰۰ | ٪۴ |
| دايکندی | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۹۸,۸۴۰ | ۵۳,۸۸۹ | ٪۱۰ | ۴۱,۷۱۹ | ٪۸ | ۵۴,۳۷۵ | ٪۱۱ | ۱۲,۱۷۰ | ٪۲ | ۲۳,۴۶۷ | ٪۵ | ۷۳,۰۶۰ | ٪۱۵ |
| زابل | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۳۷۱,۰۴۳ | ۲۵۸,۷۲۵ | ٪۴۱ | ۱۱۷,۹۹۹ | ٪۱۹ | ۱۶۶,۵۴۸ | ٪۴۵ | ۱۴۰,۷۲۶ | ٪۲۲ | ۱۵۰,۴۰۱ | ٪۴۱ | ۱۱۵,۵۲۶ | ٪۳۱ |
| سرپل | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۵۹۹,۱۳۷ | ۱۲۸,۸۶۲ | ٪۱۸ | ۶۴,۲۴۰ | ٪۹ | ۷۲,۰۲۸ | ٪۱۲ | ۶۴,۶۲۲ | ٪۹ | ۳۸,۶۰۶ | ٪۶ | ۶۶,۵۷۶ | ٪۱۱ |
| سمنګان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۱۵,۳۴۳ | ۴۵,۵۱۵ | ٪۱۰ | ۲۵,۱۸۹ | ٪۵ | ۷۳,۸۲۴ | ٪۱۸ | ۲۰,۳۲۶ | ٪۴ | ۲۲,۱۷۵ | ٪۵ | ۲۱,۷۳۶ | ٪۵ |
| غزني | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۳۱۵,۰۴۱ | ۲۰۳,۲۷۹ | ٪۱۳ | ۴۹,۷۷۵ | ٪۳ | ۱۰۳,۳۱۹ | ٪۸ | ۱۵۳,۵۰۴ | ٪۱۰ | ۱۱۰,۳۴۲ | ٪۸ | ۵۳,۱۲۶ | ٪۴ |
| غور | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۷۳۸,۲۲۴ | ۸۹,۲۸۳ | ٪۱۱ | ۳۶,۳۳۳ | ٪۴ | ۶۸,۱۸۸ | ٪۹ | ۵۲,۹۵۰ | ٪۶ | ۳۹,۶۹۸ | ٪۵ | ۴۱,۲۸۵ | ٪۶ |
| فارياب | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۰۶۹,۵۴۰ | ۲۹۱,۴۲۷ | ٪۲۱ | ۲۲۸,۲۶۲ | ٪۱۷ | ۲۳۳,۹۲۱ | ٪۲۲ | ۶۳,۱۶۵ | ٪۵ | ۸۸,۸۹۳ | ٪۸ | ۲۹۷,۰۵۶ | ٪۲۸ |
| فراه | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۵۴۳,۲۳۷ | ۱۹۰,۵۶۲ | ٪۲۶ | ۷۲,۲۴۵ | ٪۱۰ | ۲۴۶,۶۶۷ | ٪۴۵ | ۱۱۸,۳۱۷ | ٪۱۶ | ۱۲۴,۷۹۸ | ٪۲۳ | ۹۰,۴۷۳ | ٪۱۷ |
| کابل | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۴,۸۶۰,۸۸۰ | ۴۴۳,۲۳۸ | ٪۸ | ۲۱۵,۶۹۲ | ٪۴ | ۵۸,۱۰۶ | ٪۱ | ۲۲۷,۵۴۶ | ٪۴ | ۵۷,۵۰۶ | ٪۱ | ۶۹,۹۹۵ | ٪۱ |
| کاپيسا | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۴۷۱,۵۷۴ | ۴۰,۵۶۱ | ٪۸ | ۲۳,۲۹۴ | ٪۵ | ۳۳,۳۶۴ | ٪۷ | ۱۷,۲۶۷ | ٪۳ | ۱۵,۲۶۸ | ٪۳ | ۳۴,۵۰۶ | ٪۷ |
| کندز | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۰۹۱,۱۱۶ | ۲۷۷,۷۲۴ | ٪۲۰ | ۱۸۹,۳۱۹ | ٪۱۴ | ۱۵۷,۵۵۰ | ٪۱۴ | ۸۸,۴۰۵ | ٪۶ | ۱,۲۱۹,۰۹۳ | ٪۱۱۲ | ۱۵۰,۴۹۸ | ٪۱۴ |
| کندهار | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۳۳۷,۱۸۳ | ۳۰۸,۵۷۲ | ٪۱۹ | ۸۴,۷۴۰ | ٪۵ | ۲۷۹,۷۹۶ | ٪۲۱ | ۲۲۳,۸۳۲ | ٪۱۴ | ۱۰۱,۸۲۹ | ٪۸ | ۲۲,۰۲۵ | ٪۲ |
| کنړ | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۴۸۲,۱۱۵ | ۲۲۵,۵۹۹ | ٪۳۲ | ۱۰۹,۴۸۱ | ٪۱۵ | ۱۳۱,۷۷۱ | ٪۲۷ | ۱۱۶,۱۱۸ | ٪۱۶ | ۳۶,۸۹۰ | ٪۸ | ۱۲,۷۰۶ | ٪۳ |
| لغمان | ۲۰۱۸/۰۶/۳۰ | ۴۷۶,۵۳۷ | ۱۳۹,۸۸۸ | ٪۲۳ | ۹۸,۷۳۶ | ٪۱۶ | ۹۰,۶۷۵ | ٪۱۹ | ۴۱,۱۵۲ | ٪۷ | ۱۳,۵۶۴ | ٪۳ | ۲۵,۲۲۵ | ٪۵ |
| لوګر | ۲۰۱۷/۱۲/۳۱ | ۴۱۹,۳۷۷ | ۱۴۶,۵۴۴ | ٪۲۶ | ۱۰۵,۵۰۲ | ٪۱۹ | ۱۱۲,۲۸۵ | ٪۲۷ | ۴۱,۰۴۲ | ٪۷ | ۱۳,۴۳۳ | ٪۳ | ۴۳,۰۳۷ | ٪۱۰ |
| ننګرهار | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۶۳۵,۸۷۲ | ۸۰۱,۹۷۳ | ٪۳۳ | ۵۰۲,۷۱۴ | ٪۲۱ | ۳۳۱,۵۳۷ | ٪۲۰ | ۲۹۹,۲۵۹ | ٪۱۲ | ۳۵۵,۶۲۲ | ٪۲۲ | ۳۸,۷۱۹ | ٪۲ |
| نورستان | ۲۰۱۸/۰۹/۳۰ | ۱۵۸,۲۱۱ | ۶,۴۸۹ | ٪۴ | ۵۷۴ | ٪۰ | ۱۱,۰۲۲ | ٪۷ | ۵,۹۱۵ | ٪۴ | ۲۳۱ | ٪۰ | ۵۳ | ٪۰ |
| نيمروز | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱۷۶,۸۹۸ | ۱۱۷,۱۲۶ | ٪۴۰ | ۴۱,۵۳۱ | ٪۱۴ | ۱۴,۸۵۷ | ٪۸ | ۷۵,۵۹۵ | ٪۲۶ | ۱۹,۳۶۳ | ٪۱۱ | ۲۶,۴۶۳ | ٪۱۵ |
| هرات | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۲,۰۵۰,۵۱۴ | ۹۸۸,۵۳۹ | ٪۳۳ | ۱۰۱,۱۹۶ | ٪۳ | ۲۱۱,۴۶۸ | ٪۱۰ | ۸۸۷,۳۴۳ | ٪۲۹ | ۷۱,۰۰۹ | ٪۳ | ۱۵۸,۳۰۳ | ٪۸ |
| هلمند | ۲۰۱۹/۰۶/۳۰ | ۱,۳۹۵,۵۱۴ | ۵۰۴,۲۲۴ | ٪۲۷ | ۹۸,۰۸۹ | ٪۵ | ۳۵۶,۰۲۵ | ٪۲۶ | ۴۰۶,۱۳۵ | ٪۲۱ | ۵۹۶,۱۴۰ | ٪۴۳ | ۶۰,۰۱۵ | ٪۴ |
| وردک | ۲۰۱۸/۱۲/۳۱ | ۶۳۷,۶۳۴ | ۱۳۹,۲۲۲ | ٪۱۸ | ۹۷,۴۳۸ | ٪۱۳ | ۲۶۹,۶۱۳ | ٪۴۲ | ۴۱,۷۸۴ | ٪۵ | ۴۱,۵۹۷ | ٪۷ | ۸۶,۳۱۶ | ٪۱۴ |
| مجموعه | | ۳۰,۰۷۵,۰۱۸ | ۷,۵۰۰,۷۰۹ | ٪۲۰ | ۳,۳۰۹,۱۸۸ | ٪۹ | ۴,۳۷۷,۶۹۶ | ٪۱۵ | ۴,۱۹۱,۵۲۱ | ٪۱۱ | ۴,۵۴۹,۵۶۶ | ٪۱۵ | ۲,۴۳۸,۹۹۸ | ٪۸ |

* * د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل    سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



راستنېدونکي او داخلي بېځايه شوي کسان اکثره وخت په غير مسلکي کارونو کې برخه اخلي ترڅو د خپلې کورنۍ ملاتړ لپاره پيسې لاس ته راوړي، لکه دغه طالع مند داخلي بېځايه شوي کسان چې د زابل ولايت په قلات ولسوالۍ کې د کانکريټي بلوک جوړولو په کار خونه کې د کار کولو فرصت لري. © IOM ۲۰۱۹

## تګلاره

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیسټم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تر کتنې او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې دي ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ړو جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې ړو جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړونده دی.



ښځینه کارکوونکي په ډله ایزو مرکو کې د ښځینه وو کډوالو د شمېر زیاتوالي لپاره ډېرې کتورې دي او په دې توګه د خوسکټوریزو اړتیاوو ارزونه د جندر متوازن لید په پام کې نیول کېږي. © IOM ۲۰۱۹

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له جملې څخه یوازې ۵٪ یې ښځې دي. که څه هم دا لړ ده خو بیا هم د DTM د لومړي پړاو ارزونې په پرتله پرمختګ شیې چې د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې بشپړ شوی وه او ۰.۱٪ ښځو ترې استازیتوب کاوه.

**۶۱،۷۴۸**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۶،۳۸۴**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۰٪)

**۲،۹۴۲**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۵٪)


**۱۶،۶۳۵**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)


**۵۸،۸۰۶**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۵٪)

**۱۱،۳۸۸**
څو سکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۸٪)

**۵,۳**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۱۹،۳۰۱**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۱٪)



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هیوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاروکو سره ثبت ول او که نه).

د راستنېدونکو شمېر له ۲۰۱۶ کال څخه را په دې خوا د هر کال په ترځ کې په لوړه کچه راټیټ شوی خو اروپایي هېوادونو څخه د راستنېدو کچه ډېره لږه زیاته شوې. ننګرهار ولایت په ملي کچه له ۱۵٪ راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي. د DTM کلیدي معلومات ورکوونکو د پاکستان او ایران څخه د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلنو په اړه چې تر ټولو زیات راستنېدونکي یې درلودل په دقیقه توګه اټکل کړي دي چې د UNHCR او کډوالو او راستنېدونکو ریاست اټکل شوي شمېر په پرتله په ترتیب ۲٪ او ۴٪ توپیر ښیي. که څه هم کلیدي معلومات ورکوونکو د راستنېدونکو شمېر (هغه کسان چې په خپله خوښه له ایران څخه د تحریمونو له امله چې اقتصادي رکود یې پایله وه راستانه شوي) د ۲۰۱۸ کال لپاره ټیټ ښودلی دا ځکه چې ډېرۍ وخت د ټولنو وګړي داسې انګېري چې راستنېدونکي کارګر کډوال دي نه دا چې جبري راستنېدونکي دي.

**۳،۳۰۹،۱۸۸**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنیدونکي


**۱،۹۲۷،۸۲۶**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۵۸٪)


**۲،۰۰۷،۹۴۵**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنیدونکي (۶۴٪)


**۱،۱۹۲،۵۳۰**
ایران څخه راستنیدونکي (۳۶٪)


**۱،۱۱۲،۴۱۱**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنیدونکي (۳۶٪)


**۱۸۸،۸۳۲**
غیر ګاونډیو هیوادونو څخه راستنیدونکي (۶٪)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو له امله یا تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/ کورپه ټولنو ته تللي او ژوند کوي.

زمونږ د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا، له ۲۰۱۶ تر ۲۰۱۸ کلونو پورې د هر کال په ترڅ کې له ۱ میلیون څخه زیات افغانان د جګړو او طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي دي. که څه هم د ۲۰۱۸ کال په ترڅ کې د سختو جګړو له امله د ملکي وګړو په شمېر کې ۴۶٪ زیاتوالی راغلی، د داخلي بېځایه شویو ټولټال شمېر د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۴٪ زیاتوالی شیې. هرات ولایت تر ټولو ډېر زیاتمن دی ځکه چې د هېواد په کچه له ۲۱٪ داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.

**۴،۱۹۱،۵۲۱**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځایه شوي

**۲،۹۹۳،۳۸۴**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي (۷۱٪)


**۸۸۷،۳۴۳**
په هرات ولایت کې داخلي بېځایه شوي کسان چې دا تر ټولو زیات شمېر دی

**۱،۱۹۸،۱۳۷**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي (۲۹٪)


**۳۶۹،۰۶۶**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۹٪)

**۳ څخه ۲**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي (۶۴٪)


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلني بهیر





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | عمومي





د ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلني بهیر





د ولایت پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان




رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | عمومي



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راګرځېدلي داخلي بېځایه شوي)




## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولایت پر بنسټ لنډیز

| ولایت | راستنېدونکي | داخلي بېځایه شوي | ټولټال وارد شوي کسان |
|---|---|---|---|
| هرات | ۱۰۱,۱۹۶ | ۸۸۷,۳۴۳ | ۹۸۸,۵۳۹ |
| ننګرهار | ۵۰۲,۷۱۴ | ۲۹۹,۲۵۹ | ۸۰۱,۹۷۳ |
| هلمند | ۹۸,۰۸۹ | ۴۰۶,۱۳۵ | ۵۰۴,۲۲۴ |
| کابل | ۲۱۵,۶۹۲ | ۲۲۷,۵۴۶ | ۴۴۳,۲۳۸ |
| بادغیس | ۹۸,۳۲۶ | ۲۸۹,۸۸۷ | ۳۸۸,۲۱۳ |
| جوزجان | ۱۶۲,۴۳۰ | ۱۹۹,۵۳۶ | ۳۶۱,۹۶۶ |
| کندهار | ۸۴,۷۴۰ | ۲۲۳,۸۳۲ | ۳۰۸,۵۷۲ |
| بلخ | ۱۳۳,۸۰۴ | ۱۶۰,۸۱۴ | ۲۹۴,۶۱۸ |
| فاریاب | ۲۲۸,۲۶۲ | ۶۳,۱۶۵ | ۲۹۱,۴۲۷ |
| کندز | ۱۸۹,۳۱۹ | ۸۸,۴۰۵ | ۲۷۷,۷۲۴ |
| زابل | ۱۱۷,۹۹۹ | ۱۴۰,۷۲۶ | ۲۵۸,۷۲۵ |
| کنړ | ۱۰۹,۴۸۱ | ۱۱۶,۱۱۸ | ۲۲۵,۵۹۹ |
| تخار | ۱۲۶,۷۷۶ | ۷۷,۳۵۳ | ۲۰۴,۱۲۹ |
| غزني | ۴۹,۷۷۵ | ۱۵۳,۵۰۴ | ۲۰۳,۲۷۹ |
| فراه | ۷۲,۲۴۵ | ۱۱۸,۳۱۷ | ۱۹۰,۵۶۲ |
| بغلان | ۱۳۶,۵۲۰ | ۵۰,۵۹۰ | ۱۸۷,۱۱۰ |
| لوګر | ۱۰۵,۵۰۲ | ۴۱,۰۴۲ | ۱۴۶,۵۴۴ |
| خوست | ۷۶,۲۸۸ | ۶۷,۵۱۷ | ۱۴۳,۸۰۵ |
| لغمان | ۹۸,۷۳۶ | ۴۱,۱۵۲ | ۱۳۹,۸۸۸ |
| وردک | ۹۷,۴۳۸ | ۴۱,۷۸۴ | ۱۳۹,۲۲۲ |
| سرپل | ۶۴,۲۴۰ | ۶۴,۶۲۲ | ۱۲۸,۸۶۲ |
| نیمروز | ۴۱,۵۳۱ | ۷۵,۵۹۵ | ۱۱۷,۱۲۶ |
| بدخشان | ۵۶,۵۴۴ | ۴۴,۵۴۰ | ۱۰۱,۰۸۴ |
| پکتیا | ۶۹,۵۶۵ | ۲۳,۱۴۳ | ۹۲,۷۰۸ |
| غور | ۳۶,۳۳۳ | ۵۲,۹۵۰ | ۸۹,۲۸۳ |
| پکتیکا | ۴۳,۵۸۸ | ۳۹,۹۵۰ | ۸۳,۵۳۸ |
| اورزګان | ۸۹۹ | ۸۱,۳۱۶ | ۸۲,۲۱۵ |
| پروان | ۶۰,۴۶۴ | ۱۷,۲۰۷ | ۷۷,۶۷۱ |
| بامیان | ۳۸,۵۴۴ | ۳۹,۰۴۱ | ۷۷,۵۸۵ |
| دایکندی | ۴۱,۷۱۹ | ۱۲,۱۷۰ | ۵۳,۸۸۹ |
| سمنګان | ۲۵,۱۸۹ | ۲۰,۳۲۶ | ۴۵,۵۱۵ |
| کاپیسا | ۲۳,۲۹۴ | ۱۷,۲۶۷ | ۴۰,۵۶۱ |
| نورستان | ۵۷۴ | ۵,۹۱۵ | ۶,۴۸۹ |
| پنجشیر | ۱,۳۷۲ | ۳,۴۵۴ | ۴,۸۲۶ |
| مجموعه | ۳,۳۰۹,۱۸۸ | ۴,۱۹۱,۵۲۱ | ۷,۵۰۰,۷۰۹ |

په لاندې جدول کې ۲۵ ولسوالۍ ښودل شوي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي (ټولټال راغلي کسان) لري. دا سیمې د ټولنې د بې ثباتۍ په برابر کې اغېزمنې او حساسې دي چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړې کچې راتګ سره دا بې ثباتي رامنځ ته شوې. له دې امله اساسي خدمتونو او معیشت ته لاسرسی محدود شوی، ځای پر ځای کېدل د خطر سره مخ کېږي او د بیاځلې بېځایه کېدنې لامل ګرځي. هرات ولایت تر ټولو زیاتو داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي او د ۸۸۷،۳۴۳ داخلي بېځایه شویو له جملې ۵۹٪ د کړکېچ له امله او ۴۱٪ د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې بادغیس ولایت تر ټولو زیاتو داخلي بېځایه شویو څخه چې د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي دي کوربه توب کوي. د دې بېځایه شویو څخه ۱۹۶،۷۳۵ کسان د وچکالۍ له امله بېځایه شوي. سر بېره پر دې، ننګرهار ولایت تر ټولو زیاتو راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي او د ۲۰۱۲ کال راهیسې ۵۰۲،۷۱۴ راستنېدونکي هلته ثبت شوي.

## ۲۵ لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي لري

| رده بندی | ولسوالۍ | ولایت | راستنېدونکي | داخلي بېځایهشوي | ټولټال وارد شوي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هرات | هرات | ۳۶,۹۸۷ | ۳۳۲,۰۲۰ | ۳۶۹,۰۰۷ |
| ۲ | لشکرگاه | هلمند | ۲۲,۷۵۰ | ۲۳۸,۶۲۱ | ۲۶۱,۳۷۱ |
| ۳ | قلعه نو | بادغیس | ۲۶,۰۷۲ | ۲۲۸,۲۳۵ | ۲۵۴,۳۰۷ |
| ۴ | بهسود | ننگرهار | ۱۲۲,۷۹۲ | ۸۳,۶۵۷ | ۲۰۶,۴۴۹ |
| ۵ | شبر غان | جوزجان | ۶۹,۱۹۵ | ۱۳۵,۸۹۶ | ۲۰۵,۰۹۱ |
| ۶ | کابل | کابل | ۷۷,۲۴۱ | ۱۱۳,۴۵۲ | ۱۹۰,۶۹۳ |
| ۷ | قلات | زابل | ۳۱,۶۹۷ | ۹۵,۶۴۸ | ۱۲۷,۳۴۵ |
| ۸ | غزنی | غزنی | ۹,۳۶۲ | ۱۱۷,۲۶۹ | ۱۲۶,۶۳۱ |
| ۹ | کرخ | هرات | ۵,۷۴۵ | ۱۰۹,۳۵۹ | ۱۱۵,۱۰۴ |
| ۱۰ | کندهار | کندهار | ۲۸,۵۶۴ | ۸۴,۵۱۲ | ۱۱۳,۰۷۶ |
| ۱۱ | گذره | هرات | ۸,۸۰۲ | ۹۴,۵۸۶ | ۱۰۳,۳۸۸ |
| ۱۲ | سرخرود | ننگرهار | ۴۶,۹۰۰ | ۴۵,۰۰۳ | ۹۱,۹۰۳ |
| ۱۳ | سرپل | سرپل | ۳۶,۰۴۵ | ۵۱,۸۳۷ | ۸۷,۸۸۲ |
| ۱۴ | زرنج | نیمروز | ۲۶,۷۶۰ | ۵۰,۸۰۷ | ۷۷,۵۶۷ |
| ۱۵ | مزار شریف | بلخ | ۱۵,۶۴۴ | ۶۱,۰۲۶ | ۷۶,۶۷۰ |
| ۱۶ | جلال آباد | ننگرهار | ۴۷,۶۹۵ | ۲۷,۵۸۸ | ۷۵,۲۸۳ |
| ۱۷ | چپرهار | ننگرهار | ۵۲,۴۱۹ | ۲۰,۷۹۵ | ۷۳,۲۱۴ |
| ۱۸ | انجیل | هرات | ۵,۵۷۵ | ۶۵,۸۴۵ | ۷۱,۴۲۰ |
| ۱۹ | شیرین تگاب | فاریاب | ۶۴,۸۵۱ | ۱,۸۸۳ | ۶۶,۷۳۴ |
| ۲۰ | پل علم | لوگر | ۴۴,۶۶۰ | ۲۱,۸۹۵ | ۶۶,۵۵۵ |
| ۲۱ | فراه | فراه | ۱۴,۴۴۴ | ۵۲,۰۸۱ | ۶۶,۵۲۵ |
| ۲۲ | کندز | کندز | ۴۱,۲۴۱ | ۲۴,۴۲۹ | ۶۵,۶۷۰ |
| ۲۳ | اوبه | هرات | ۱,۰۸۵ | ۵۹,۵۶۳ | ۶۰,۶۴۸ |
| ۲۴ | خان آباد | کندز | ۴۲,۳۴۲ | ۱۷,۹۹۹ | ۶۰,۳۴۱ |
| ۲۵ | نهر شاهی | بلخ | ۱۳,۷۶۹ | ۴۵,۷۵۶ | ۵۹,۵۲۵ |
| | | مجموعه | ۸۹۲,۶۳۷ | ۲,۱۷۹,۷۶۲ | ۳,۰۷۲,۳۹۹ |

## داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې


دا هغه افغانان دي چې له يـوې ارزول شـوي سـيمې څخه چې هلته يـې پخوا ژوند كاوه د افغانستان دننه يـوې بلې سيمې ته تللي دي تر څو د وسلـه والـو جگړو، تاوتريخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب انديښنـې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـوي پېښـو څخه خونديـ ووسي.


**۴،۳۷۷،۶۹۶**
داخلي بېځايه شوي چې خپلې سيمې يې پرېښې

**۳ څخه ۲**
په عين ولايت كې نورو سيمو ته تللي دي (۶۶٪)

**۲،۹۰۴،۱۵۸**
د كړكېچ له امله بېځايه شوي (۶۶٪)

**۱،۴۷۳،۵۳۸**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي (۳۴٪)




## راستانه شوي داخلي بېځايه شوي كسان


راستانه شـوي داخلـي بېځايـه شـوي هغـه افغانـان دي چـې خپلو سيمو تـه چې ارزول شـوي سيمې دي او پخوا يې پرېښـې وې بېرته سـتانه شـوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅـو د وسلـه والـو جگړو، تاوتريخـوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنـې او طبيعـي پېښـو يـا د انسان په لاس جوړ شـويو پېښـو لـه اغېزو څخه خونـدي ووسي.


**۴،۵۴۹،۵۶۶**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۸۵٪ څخه زيات**
داخلي بېځايه شوي له لوگر، لغمان او وردگ ولايتونو څخه خپلو اصلي سيمو ته نه دي ستانه شوي

**۵ څخه ۴**
د عين ولايت له نورو سيمو څخه راستانه شوي (۸۳٪)

**۴ څخه ۱**
۲۷٪ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي كسان كندز ولايت ته تللي



# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شاملیږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښی وي.


د ۲۰۱۵ کال راهیسې د کډوالو شمیر په دوامداره توګه راټیټ شوی چې ښایي اروپایي هېوادونو څخه د راستنېدلو، د اقتصادی فرصتونو کموالی او په ایران او پاکستان کې د خوندیتوب کموالی یې لاملونه وي. د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا د ۲۰۱۲ کال راهیسې ۲۹۷،۰۵۶ افغانان له فاریاب ولایت څخه بهرنیو هېوادونو ته تللي دي چې په ډېر احتمال سره دا کار د اوږد مهاله جګړې له امله شوی چې د پرمختګ مخه یې نیولې او د معیشت له لاسه ورکولو او د فقر لامل ګرځېدلی.


**۲،۴۳۸،۹۹۸**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۳۱۸،۰۴۴**
اروپایي هېوادونو ته تللي دي (۱۳٪)


**۱،۵۱۳،۴۳۹**
ایران ته تللي دي (۶۲٪)


**۵۲۷،۳۸۴**
پاکستان ته تللي دي (۲۲٪)




# ثو سکتوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکي ولایتونه

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د ثو شاخصه سکتورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لست چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یادښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړني ولایتونه چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۹۸۸,۵۳۹ |
| ۲ | ننګرهار | ۸۰۱,۹۷۳ |
| ۳ | هلمند | ۵۰۴,۲۲۴ |
| ۴ | کابل | ۴۴۳,۲۳۸ |
| ۵ | بادغیس | ۳۸۸,۲۱۳ |
| | عمومي مجموعه | ۳,۱۲۶,۱۸۷ |

### پنځه لومړني ولایتونه چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خیمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۱۷۹,۷۹۲ |
| ۲ | بادغیس | ۱۶۱,۹۷۳ |
| ۳ | کندهار | ۲۵,۳۷۹ |
| ۴ | ننګرهار | ۱۸,۰۲۲ |
| ۵ | هلمند | ۱۰,۳۲۳ |
| | عمومي مجموعه | ۳۹۵,۴۸۹ |

### پنځه لومړني ولایتونه چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | بادغیس | ۱۵۹,۸۶۱ |
| ۲ | جوزجان | ۹۷,۱۷۴ |
| ۳ | فاریاب | ۹۶,۷۶۴ |
| ۴ | نیمروز | ۴۲,۴۰۰ |
| ۵ | بلخ | ۴۰,۳۲۳ |
| | عمومي مجموعه | ۴۳۶,۵۲۲ |

### پنځه لومړني ولایتونه چې روغتیایي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | بلخ | ۱۶۴,۰۹۹ |
| ۲ | جوزجان | ۱۷۵,۷۱۰ |
| ۳ | ننګرهار | ۲۱۵,۴۲۶ |
| ۴ | هرات | ۳۵۴,۰۴۱ |
| ۵ | هلمند | ۲۰۶,۳۴۶ |
| | عمومي مجموعه | ۱,۱۱۵,۶۲۲ |


### پنځه لومړني ولایتونه چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هلمند | ۹۷,۱۱۰ |
| ۲ | کندهار | ۸۲,۵۷۳ |
| ۳ | هرات | ۷۱,۶۱۶ |
| ۴ | زابل | ۶۰,۵۹۳ |
| ۵ | فراه | ۵۶,۹۵۵ |
| | عمومي مجموعه | ۳۶۸,۸۴۷ |


### پنځه لومړني ولایتونه چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولایت | افراد |
|---|---|---|
| ۱ | هرات | ۳۱۲,۷۶۱ |
| ۲ | هلمند | ۱۲۵,۲۳۳ |
| ۳ | کندز | ۱۱۷,۴۰۶ |
| ۴ | بلخ | ۱۱۲,۰۲۰ |
| ۵ | جوزجان | ۱۱۰,۹۹۹ |
| | عمومي مجموعه | ۷۷۸,۴۱۹ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | عمومي




دېرې وخت په زیانمنو ولسوالیو کې د زدکړې مرکزونه یرغمل نیول کېږي او وروسته بیا له منځه ځي لکه دا د انجونو ښوونځی په فراه ولایت کې. © IOM ۲۰۱۸



د ۲،۷۸۱،۷۱۸ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو په شان چې له ۵ کیلومتر څخه زیاته لاره مزل کوي ترڅو تر ټولو نږدې روغتیایي مرکز ته ورسېږي دا کورنۍ هم مجبوره ده چې له یو سیند څخه پیاده واوړي ترڅو د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالۍ کې تر ټولو نږدې روغتیایي ځانګې ته ورسېږي.© IOM ۲۰۱۹



۷۶۵،۳۳۶ راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی نلري خو ځینې ټولنې د دې کلي په شان چې د تخار ولایت خواجه غار ولسوالۍ کې موقعیت لري د اوبو لمریز تصفیه کوونکي څخه په ښه توګه ګټه اغلي. © IOM ۲۰۱۹



د ۴۱۴،۳۳۰ داخلي بېځایه شویو په شان چې د ژوندانه خراب وضعیت سره سره په خیمو او آزاده فضا کې اوسېږي دا داخلي بېځایه شوي هم د جوزجان ولایت په شبرغان ولسوالۍ کې د اوږد مهاله کړکېچ له امله په یو غیر رسمي سیمه کې په خیمو کې ژوند کوي.© IOM ۲۰۱۹



## د یوه بېځایه شوي کیسه

### د کورنۍ د عاید لرونکي غړي ډیپورټ کېدل او کورنۍ یې په ایران کې بې سرپرسته پاتې کېدل


د ۲،۴۳۸،۹۹۸ افغانانو په شان چې د ۲۰۱۲ کال راهیسې بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي اسعد هم له خپل فامیل سره بغلان ولایت نه ایران ته کډوال شوی وه ترڅو له اوږد مهاله کړکېچ، د پرمختګ نشتون او د کاري فرصتونو نشتوالي څخه په امان کې ووسي. له بده مرغه اسعد د ۱۳۹۸ کال په غویي میاشتې کې د پولیسو لخوا ونیول شو او افغانستان ته وشړل شو. اسعد وایي چې کله چې هغه ونیول شو او ډیپورټ کېدو ته وګواښول شو نو هغه عذر وکړ چې هغه له کورنۍ سره یې یو ځای ډیپورټ کړي. هیڅ چا د هغه عذر ونه منه او پولیسو هغه بندي کړ. هغه نشو کولای له خپلې کورنۍ سره په اړیکه کې شي. هغوی اسعد مجبور کړ چې خپله کورنۍ په ایران کې پرېږدي او افغانستان ته ولاړ شي چې د هغه کورنۍ د اسعد له بندي کېدو څخه خبره نه وه او د عاید د ترلاسه کولو لپاره یې کومه سرچینه هم نه درلوده.

اسعد د ۱۰ ورځو لپاره بندي وه. هغه وایي چې د کوم لامل پرته بندي شوی وه او وښل او ټکول کېده او فزیکي ناوړه ګټه ترې اخیستل کېده. وروسته له هغه اسعد ډیپورټ شو او د نیمروز ولایت د زرنج ولسوالۍ افغان پولیسو ته وسپارل شو. اسعد غوښتل چې بېرته ایران ته ولاړ شي ترڅو خپله کورنۍ وژغوري خو د سفر لپاره یې پیسې نه درلودې.

د هغه له بندي کېدو څخه ۲۰ ورځې وروسته هغه بلاخره بغلان ولایت کې خپل کور ته ستون شو. په دې مهال کې هغه کولای شو له خپلې کورنۍ سره په اړیکه کې شي. اوس هغوی په خراب وضعیت کې ژوند کوي او د هغوی د ملاتړ لپاره هیڅ څوک هلته نشته. څکه چې اسعد کومه دنده نه درلوده او پیسې یې هم نه درلودې نو څکه هغه نشو کولای د خپل د کورنې د راستنېدو لړښت ورکړي او هغوی هم په ایران کې ډېر خراب وضعیت کې ژوند کوي. اسعد له ډېرې اندېښنې سره داسې وایي:

> "که چېرې زمونږ خپل هېواد کې کاري فرصتونو وی نو د کډوال کېدو او داسې ستونزو سره د مخ کېدو کومه اړتیا نه وه!"

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندی ووسي.



اسعد له ډیپورټ کېدو سره دې ته اړ شو چې خپله کورنۍ په ایران کې پرېږدي او اوس هغه تر دې حده غریب دی چې نشي کولای له ایران څخه افغانستان ته د راستنېدو لپاره د خپل د کورنۍ د سفر لړښت ورکړي. © IOM ۲۰۱۹

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترخ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int


facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan


instagram.com/iomafghanistan


په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره




د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیسټم – افغانستان
ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | عمومي کتنه | جون ۲۰۱۹
IOM • OIM
https://afghanistan.iom.int/ - email : iomkabuldtmallusers@iom.int
1 cm = 41 km
1:4,100,000
0
95
190
380
Kilometers
تاجیکستان
ازبکستان
ترکمنستان
پاکستان
چین
جمو و کشمیر
ایران (جمهوري اسلامي)
نیمروز
هلمند
کندهار
هرات
فراه
بادغیس
غور
بامیان
کابل
ننګرهار
کنړ
غزني
پکتیکا
نورستان
د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیسټم – افغانستان
له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | عمومي کتنه |
جون ۲۰۱۹
1 cm = 41 km
1:4,100,000
Kilometers
0
95
190
380
https://afghanistan.iom.int/ - email : iomkabuldtmallusers@iom.int
IOM • OIM
تاجکستان
ازبکستان
ترکمنستان
پاکستان
چین
جمو و کشمیر
ایران (جمهوري اسلامي)
بهرنیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې




د راسېدليو داخلي بېځايه شويو کسانو کوربه ولسوالۍ ګانې




د داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کانې چې پرېښي یې دي




بهرنيو هېوادونو ته د کډوال شويو کسانو اصلي ولسوالۍ ګانې




د پخوانیو داخلي بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ کانې